# د عزیزالله ماما اېډوکېټ د پښتو شاعري تنقیدي او تحقیقي جاج

**A Study And Critical Analysis Of The Pashto Poetry Of Azizullah Mama Advocate**

دلاور خان کاسی♣
ډاکټر عبدالرحمن کاکړ♥

**Abstract:**

Aziz Ullah Mama Advocate is one of the most famous and versatile personalities of Southern Pashtoon who had contributed to the field of literature, journalism, politics, advocacy etc. Although, he was much active in politics yet his services in pashto literature can not be ignore.Aziz Ullah Mama advocate used to be a prominent writer of his age. He has authored books both in Pashto prose and poetry. Anyhow, the authors of this paper strive to critically analyse pashto poetry of Aziz Ullah Mama which is not popular in public.

**Keywords:** Aziz Ullah Mama, Pashto, Poetry, Southern Pashtoon Khwa

کله چې موږ په پښتو ادب کښې د شعر په اړه څېړنه کوو نو هغه وخت موږ ته دا خبره په ځانګړې توګه سره څرګندېږي، چې په پښتو ادب کښې له دویمي او درېیمي پېړۍ څخه رانیولې تر اوسني دور پورې په هره دوره کښې د سوهېلي پښتونخوا شاعرانو خپله ونډه و پښتو ادب ته لورولې ده.

د شاعر په اړه به دومره خبره ضرور وکړو چې شاعر د یوې ټولني استازی وي، او د هغه شاعري د ټولني استازیتوب کوي. هغه داسي کله چې موږ د یوه شاعر شعر، نظم، ویاړنه، مرثیه او داسي نور څه د شعر سره اړه لرونکي مواد لولو نو هغه د هغه ځانګړي وخت ټول حالات و اولس ته ور ښکاره کوي.

د یوه شاعر سوچ او فکر دومره ژور او الوت یې دومره لوړ وي چې هغه د مکان او زمان سره سم د تېر او د را روان وخت ذکر هم د شعر په ژبه و خپل اولس ته کوي.عشق، سوچ او فکر د شاعري برخه بولي.

د پښتنو ادب یو ستر شاعر لېونی فلسفي غني خان داسي وایي چې هغه شاعر شاعر نۀ دی چې خدای تعالی نۀ پېژني، د شاعر سوچ به ښک او د هغه هر قدم به د ښکي پر لور وي ځکه چې ښایست ښکي ده او ښکي ښایست دی؛ لېونی فلسفي خپله خبره د لټون له لاري داسي راوړي، لیکي:

"شاعر که خدای نۀ پېژني نو شاعر نۀ دی او چې څوک خائشت نۀ پېژني هغه خدای پاک نۀ شي پېژندلې.ښکي خائشت دی. چې کوم خیال ښکلی وي هغه ښک دی. چې کوم کار ښک وي هغه ښکلی دی. دغه د ښو اؤ بدونه پورته یوه لار ده چې ښغ به دې پرې جنت ته بوځي.

♣ M.Phil Scholar, Department of Pashto, University of Balochistan, Quetta
♥ Lecturer, Department of pashto, university of Balochistan, Quetta

جنت نۀ کوټه ده، نۀ کلي دی، نۀ ښاریه ده چې تۀ به تسبې ګاڼه کړې اؤ ټکټ به ورله واخلې اؤ د خېرات په سرې ډوډۍ اؤ دکیر په دېګ به ورله سور لاړ شې. "(۱)

لکه څنګه چې موږ په سر کښې و دې خبري ته اشاره کړې ده چې د سوهېلي پښتونخوا شاعرانو په هره دوره کښې د پښتو شاعري په وده کښې مهم کردار تر سره کړی دی. عزیز الله ماما ابډوکېټ په سوهېلي پښتونخوا کښې یو هغه شاعر دی چې شعري ټولګه یې تر اوسه پوري د چاپ په ګېڼه نۀ ده پسولل شوې. کومه چې هغه په خپل لاس سره ترتیب کړې او خوندي کړې ده چې د ناچاپه مسودې په بڼه کښې په هېواد کتابتون (د ماما خپل ځاني کتابتون) کښې خوندي پرته ده. د عزیز الله ماما ابډوکېټ د شاعري یو څه داسي نمونې چې په بېلابېلو مجلو او کتابونو کښې په بېلا بېلو وختونو کښې چاپ شوي. عزیز الله ماما ابډوکېټ که ډرامه لیکونکی و، صحافي و، ادبي تاریخ لیکونکی او کالم نګار و خو د دا ټولو ځانګړتیاوو په ملتیا هغه یو ښه شاعر هم و. د هغه د ناچاپ شاعري یوه لویه برخه په حقیقي او قامي شاعري باندي مشتمله ده.

**د هغه د شاعرۍ ابتدا**:

عزیز الله ماما ابډوکېټ د خپلي شاعري په اړه لیکي چې ما د شعر ابتدا له کال ۱۹۶۵څخه کړې ده. د ځیني وجوهاتو له کبله مي شاعري پر مخ جاري و نۀ ساتله او پرې مې ښووله. یعني هغه دا وایي چې ما د خپلي شاعري ابتدا د سکول د اتم یا نهم ټولګي څخه کړې ده. په همدا مهال هغه پنځلس کلن ماشوم و. هغه د خپلي شاعري په اړه څه داسي لیکي:

> "زما دا نیمه خوا شاعري غونډه چې د ۱۹۶۵څخه یعني چې کله زۀ پنځلس کلن وم او په سکول کښې مې په اتم یا نهم ټولګي کښې سبق وایه. بیا د افغانستان د مسافرت سره د ژورو سیاسي فعالیتونو له کبله او بل د نېږدې مطالعې ... د امله ما شعر ویل په ۱۹۷۴کښې پرېښود. اګرچه شعري حس مي اوس هم ځوان دی. زۀ شاعر وم خو نۀ یم. عزیز الله، جنوري ۱۹۹۴"(۲)

عزیز الله ماما د ابتدا څخه چې څه ډول شاعري کړې ده، په هغه کښې یوه لویه برخه د حقیقي او قامي شاعري ده، عشقیه کلامونه یې ډېر زیات په کښې دي د دا ټولو ځانګړتیاوو په ملتیا هغه داسي سبق لرونکي شاعري هم کړې ده چې و ټولني ته داسي نصیحت کوي چې یو وګړی ولي داسي وکړي چې د هغه د عمل څخه د هغه ژوند خراب شي، موضوعات خو یې بېخي ډېر دي ماما د خپلي شعري ټولګي په ناچاپه نسخه کښې په ۱۹م غزل کښې د خودکشي په اړه داسي لیکي:

> "دغه سخته بې عقلي ده د انسان
> ډېره لوړه جاهلي د دانسان
> ولي ځان ته په خپله داسي رولي

چې پخپله خپل ځان مړ کړي په ارمان
ولې دومره عقل خدایه دا دی درکړی
هغه څنګه خودکشي ده د انسان
ور خطا یې شي د دواړو جهانوغه
دغه څومره بې باکي ده د انسان
پر ما باندي صرف دغونه ویل بس دي
وس نو ستا پر کاروایي د اې انسان
اې عزیزه غمزده ښېګړه غواړه
د سر او سرتونه صحیح دي د انسان"(۳)

په دا غزل کښې عزیز الله ماما و هغه وګړي ته خبره کوي او وایي چې اې انسانه الله تعالی و تاته یو ډېر خوږ ژوند درکړی دی بیا داسي څه دي اې کم عقله انسانه چې خپل خوږ ژوند خپله له لاسه ورکړې. دا ژوند خو دي تباه شي هغه ابدي ژوند هم تباه کړې. شاعر د خپل شعر په وسیله و انسانانو ته د دا خبري لارښودنه کوي او د ژوندانه ارزښت ور په ګوته کوي چې اې انسانه داسي مه کړه چې دواړه جهانونه له لاسه ورکړې.

**د ده د شاعرۍ معیار**:

شاعري د اظهار یوه موثره ذریعه ده، شاعر د شعور هغه څښتن وي چې د ماضي او حال په مرسته سباوون ویني د هغه وینا بې مانا او سر سري نه وي هغه و هر څه ته په ژور نظر ګوري.

موږ په خپل قامي تاریخ کښې یو شمېر شاعران لرو چې مخکښ یې ستر خوشحال خان دی. و هغه ته د خوشحال بابا په نامه ځکه ویل کیږي چې هغه د پښتنو بابا ؤ. خوشحال بابا د شاعري په ذریعه د وخت د جابرانو غندنه کړې ده. او پښتانهٔ یې و یووالي ته رابللي دي.

وروسته بیا ډېرو شاعرانو د قامي ګټو دپاره د خوشحال بابا لاره خپله کړه چې له دې لاري پښتانهٔ د روښانه، خوندي او خوندمند مستقبل هدف ته ورسیږي. په دې لړ کښې د ستر حمزه بابا خدمات څرګند دي چې په غزل کښې یې هم و افغان غیرت او عظمت ته ځای ورکړی دی، له هغه سره په څنګ کښې د حاضروخت یوه بله ستره ککرۍ ارواښاد اجمل خټک دی چې د شعر په ژبه یې د پښتنو پر اوسني حالت ژړلي دي.

د قامي ملګرتیا دا لړۍ له ډېر پخوا څخه را روانه ده او تر څو چې د دنیا پر مخ پښتانهٔ او د هغوئ غم خواره شاعران وي دا سلسله به جاري وي ځکه خو موږ په بېلا بېلو دورو کښې په بېلابېلو سیمو کښې د قام د سوکاله ژوندانه غوښتونکي شاعران اورو چې د هغو له ډلي څخه یو د دې سیمي عزیز الله ماما دی ارواښاد عزیز الله ماما د پښین د کاکړۍ توبې هغه ځیرک شاعر دی چې ناسته پاسته یې

له حمزه خان شینواري او اجمل خان خټک سره وه، هم په کوټه او هم په نورو سیمو کښې یې له هغو سره په مشاعرو کښې برخه اخستې ده او د هغه وخت په ورځپاڼه "هېواد" کښې یې هم د شعر نمونې تر سترګو کیږي.
لکه څرګنده چې ده، عزیز الله ماما د پیشې له اعتباره یو تکړه وکیل و خو په سیاسي ډګر کښې هم هغه د قام ګټو ته کار کړی دی او له هغو کسانو او تنظیمونو سره یې زیاته مرسته کوله چې چا به د پښتو د ودې دپاره کار کاوه.

**د عزیزالله ماما شاعري**:

لکه څنګه چې انسان له ماحول څخه اثر اخلي له عزیز الله ماما سره هم داسې شوي دي. دهغه ناسته ولاړه له دانشورانو او شاعرانو سره وه ځکه نو د ژوند په اوږدو کښې د نورو ډېرو چارو ترڅنګ هغه پر شاعري باندې هم طبع ازمایي کړېده. د هغه د شخصیت دا اړخ دلچسپ په دا دی چې تر خپله وسه پورې یې ښه هڅه کړېده. شاعرانه فن یې تر پوښتنو لاندې راتلای شي، خو فکر یې زیات اهمیت لري. په هر شعر کښې یې له قام سره مینه له ورایه ښکاره ده، داسې ایسي چې د پښتو د زریني دورې د شعري ادب مطالعه یې زیاته وه ځکه یې رنګ ځیني اخستی دی. د دغو تحقیقي کرښو د لیکلو دپاره ما هڅه وکړه او شکر کاږم چې د عزیز الله ماما په لاس لیکلي ناچاپ شعرونه مې ترلاسه کړل د ناچاپه مسودې په پای کښې د ځان په هکله داسې لیکي:

> "زما د شاعرۍ په حقله به زۀ څه ووایم دا شاعري ښځي په کچه رنګ کښې چې ښځي خامه وه، په ۱۹۶۵کې چې زۀ ډېر ماشوم وم او په اووم، اتم جماعت کښې وم. ما شاعري پېل کړه. دا یو طبعي وجدان وو چې د صاحبزادګانو د ماحول څه یې لمسون واخیست خو په زړۀ کې مې درد په اغه ماشوم او کمزوري وخت کې لا وو. د وطن پردیسي معاشي واقتصادي مجبوري،، ښځي صفا او سپېڅلې مینه، د خپلې خاوري مور او کور د وطن سره په دې ټوله دوره کې ما رسمي استاز نۀ دی ځان لره نیولی. زۀ د خپل ځان په خپله استاز وم، دوه دوه یا یو یو کال پس به مې پر خپلو شعرونو نظرثاني کوله ورو ورو په شپږ شپېتم او اوه شپېتم کال کښې زما فکر لیږ پخوالی وموند مګر د اغه روایاتي ماحول څه یې ځان خلاص نۀ کړ، هم اغه روایاتي طرز د شاعرۍ وو. او هم اغه محلي فکر وو،، وس زۀ پر دې یقین لرم چې ماحول فکر ته رنګ ورکوي."(۴)

د عزیز الله ماما د شاعرۍ په لوستلو سره څرګندېږي چې هغه ځان لره د یو مسلکي شاعر غوندې د تخلص انتخاب هم کړی دی، په ناچاپه شعري ټولګه کښې یې زیاتره تخلص غمزده و مخي ته راځي، وبه ګورو چې هغه په خپله په دې اړه څه لیکي:

"دابېله خبره ده چي يو وخت کښې مي د نامه د مخه د "ملک" مهاروو، بيا د "غمزده" لکی، په پوري سوه، بيا يو ځل بيا د"خانزاده"ټوټۍ مي د نامه د مخه سو، او بيا د "احمدخېل" ټکۍ وو، دا د هغه وخت رواياتي بنيادي، خام خيالي څو نخښې دي او نن زۀ تش "عزيزالله" يم نۀ ملک، نۀ خانزاده، نۀ غمزده، نۀ خان او نۀ احمدخېل، دا ولي چې زۀ د خام خيالی، څه ځان و پوچ خيالی، ته وتلی نۀ يم، زۀ وايم چې ما دروايتي سلطنت سرحد پريکړی او د تر څو حقيقتو و سلطنت ته وروتلۍ يم، زما د فکر وده او نشونما ځما د دې القابي او خطابي نخښو څه هم يو انسان لګولۍ سي."(۵)

د اروابناد عزيز الله ماما اېډوکېټ له خپل وطن سره دومره بې کچه مينه درلوده چې هغه د ژوند په هر ډګر کښې بې له وطنه نور هيڅ نۀ ليده. هغه چې به کله په يوه محفل کښې وينا کوله هغه وينا به هغه د وطن او د اولس څخه پېلوله. هغه ځکه چې هغه ډېر زيات ارمانجن و چې پښتون لوستی ووينې، د قامونو سره يې سيال ووينې، د بل د وطن چوپړخور نۀ وي او هغه غوښت چې پښتانۀ خپل وطن ګل ګلزار کړي. ځکه ماما که عشقي شعرونه ويلي دي خو د هغه د شعري ټولګې يوه لويه برخه په قامي شاعري باندي مشتمله ده.

عزيز الله ماما په خپلو شعرونو کښې د وطن او د قامي ستونزو په ملتيا د قام و شهيدانو ته هم ډېر شعرونه ډالی، کړي دي او د شهيدانو د يوه نظم په اړه هغه داسي ليکي:

"دا نظم د ظريف شهيد د کليزي په مناسبت د کال ۱۹۷۲ د مۍ پر اته ويشتم تاريخ د پي.ايس.ايف د جلوس په هغه جلسه کښې چې پر "منان چوک" باندي کيده ولوستی...

د غيرت نغمې مدام وايم شهيده!
ستا و لوړ شان ته سلام وايم شهيده!
ستا د سرې ويني له جوش او له غيرته
و ځلميانو ته مرام وايم شهيده!
ستا سپېڅلي ويني لاړ راته ښکاره کړه
ځکه شعر مدام د قام وايم شهيده!(۶)

که د عزيز ماما و نوري شاعري ته وګورو نو د يو حقيقي مسلمان او غيرت مند پښتون غوندي له خدای پاک او رسول پاک ﷺ سره مينه يې ببخي څرګنده ده، د شعري روايت په پاللو د ناچاپه شاعري په شروع کښې نعتيه کلام داسي ليکي:

"ديدن به د دلبره، کوم بې په محشره، مولا مي دی رهبره
نوم يې پروت پر کل جهان دی، پر هر چا مهربان دی"(۷)

د اروابناد له دغه کلام څخه څو خبري څرګندېږي د یو پوخ مسلمان په څېر هغه هم دا دنیا د اخرت دپاره کرونده ګڼي او نازیږي په دې چې په را روان ناتمام ژوندون کښې به چې محشر ورته وایي د خپل هغه عربي جانان په روی چې عظیم بادار یې له سوبه دا جهان تخلیق کړی دی،دیدن کوي او خدای پاک ته به یې شفیع کوي چې حساب کتاب یې اسانه شي په پورتني شعر کښې هغه په څرګنده وایي چې هغه یې دلبر او رهبر دی او د هغه نوم د یو مهربانه هستي په حېث یادیږي. د فاني دنیا د بې ثباتي و حقیقت ته هم متوجه دی ځکه یو ځای وایي:

"پناه غواړم سبحانه زه تل یم پریشانه
تا ته هر مشکل اسانه پر سفر به سم روانه
ډوری و ګورستانه"(۸)

په دغو شعرونو کښې یې د مرګ حقیقت یاد کړی دی او د قبر له زحمت او د عقبی په مشکلاتو کښې یې یواځنی تکیه د خپل خالق پر ذات ده د ناتمامه سفر خبره یې له ډوری او هدیرې څخه پېل کړې ده، دلته موږ ویلای شو، چې فکر اخرت زموږ په دنیاوي چارو تاثیر کولای شي، چې ښه وکړو نو بیا به ښه راسره کیږي.

له مخه موږ د هغه د عشقیه کلام ذکر وکړی، اروابناد د هغه وخت د بنډاري شاعرانو رنګ هم اخستی دی، د هغه د مجازي رنګ غمازي لاندي مطلع کوي:

"دلبره زه مړه کیږمه ولهم راباندي رږده
په هیڅ چا نهٔ جوړیږمه ولهم راباندي رږده"(۹)

اروابناد عزیزالله ماما اېډوکېټ تر خپله وسه په ښه ساده او روانه توګه شاعري کړې ده، ځایي سوچه توري یې حسب توفیق کار کړي دي او د دې ترڅنګ یې ځیني ځایونه خپله سیمه هم یاده کړېده ده، چې دا یې له خپل وطن او ټاټوبي سره مینه څرګندوي وایي:

"پر زړهٔ یې راکړه د غم داغونه
په وینو سره سو د پښین روډونه"(۱۰)

عزیز الله ماما اېډوکېټ تر خپله وسه د اولسي شاعري پر مشهورو صنفونو کاکړۍ غاړي او ټپې باندي هم طبع ازمايي کړېده. د مثال په توګه د هغه لاندي ټپې او غاړي چې په دا ډول سره دي:

ټپې

"د محبت کلا ګټمه
زړګی مي ډهال دی باڼوګان مي توري دینه(۱۱)
د جدایي پر اور کبابه
راسه چي ډم ته دي د غم ورواچومه"(۱۲)

**کاکړی غاړي**:

"پښتنې نجوني په نام دي
تل ولاړي پر خپل قام دي"(۱۳)

په اور سوی د هجران یم
د توبې پر لور روان یم"(۱۴)

د عزیز الله ماما ایډوکیټ په شاعري کښې دا هم تر سترګو کېږي چې هغه د نبي مبارکﷺاو د صحابه کرامود وخت قیصې هم په شعري چوکاټ کښې بیان کړي دي او دغه کوشش یې دا ثابتوي چې هغه یو قادر الکلام شاعر و.

بل ځای یې د رباعي یا څلوریزي د ویلو هم کامیابه هڅه کړېده د بېلګې په توګه:

"زۀ بېرېږمه داستا د تورو زلفو
سخت ډارېږمه داستا د تورو زلفو
غمزده عزیز الله دي په بندي کړم
وس شرمېږمه داستا د تورو زلفو"(۱۵)

په پورتنۍ رباعي کښې هغه د زړو شاعرانو په لار روان ښکاري، د میني په کار کښې د ډار او بند خبري کوي او دا بیانوي چې د تورو زلفو د خپلولو په کار کښې یې مشکلات په مخکښې دي. یو بل ځای په یوه بله رباعي کښې داسي وايي:

بوخت په چارو یمه نه لرم خلاصیت هیڅ
یو ګړی ژوندون دی نه لرم فرصت هیڅ
زه عزیز الله حېران یمه پر ځان خپل
نه مي وکړ په دنیا کښې عبادت هیڅ(۱۶)

په دا بالا رباعي کښې د عزیز الله ماما عاجزي په ځرګنده توګه سره ښکاري. هغه دلته له خپله ځان څخه دا ګیله کوي چې زۀ د ژوندانه په چارو باندي داسي بوخت پاته شوی یم چې هیڅ وخت مي نۀ وموندی چې عبادت مي په کښې کړی وای. خو که موږ د عزیز الله ماما و ژوندانه ته لږ هم فکر وکړو هغه په خپل ژوند کښې یو دومره عاجزه، باکرداره، با عمل انسان پاته شوی دی چې ټول ژوند یې اولسي خدمت کړی دی. هغه په خپل ژوند کښې یو تقوی داره انسان تېر شوی دی. د هغه د تقوی اندازه له دې بالا راوړل شوی رباعي څخه موږ کولای شو چې هغه پنځه وخته لمونځ ګذاره، تقوی

لرونکی او د کردار خاوند و خو بیا یې هم له ځانه څخه دا ګیله ده چې په دنیا کښې یې هیڅ عبادت نهٔ دی کړی.

زموږ دغه اروابناد ملت پال شاعر په خپله شاعري کښې له وطنه سره د مینې خبره کړېده، خپل ملت او د ملت هغه مخکښان یې یاد کړي دي چې سرونه یې پر قام او وطن قربان کړل، چې له هغو څخه یو هم شهید صادق کاسی دی، چې په هکله یې په مرثیه "د صادق شهید ویرنه" په ۱۹۷۲کښې عزیز ماما داسې وايي:

"دصادق د مرګ درنه شپه چې راياد سي
زړهٔ مي جوش وخوري د هره څه ازاد سي
زړهٔ مي نهٔ غواړي چې و وايم شعرونه
ځما ضمير وايي چي ستا شعر دي ارشاد سي"(۱۷)

ددغه کلام په هکله یې دومره وایم چې فکر او فن یې دواړه د ستائیلو دي او دا هم چې یو وخت به د هغه دغه کلام د حوالې کار ورکوي او دا هم چې د هغه شاعري په لوست ارزي په دې چې هغه د خپل عصر یو نمائنده شاعر دی خپل جلا رنګ لري ځکه نو ضروري ده. چې د هغه د کلام خپرولو ته لار هواره شي تر څو د پښتو شاعري مینه وال د عزیز ماما له شاعرانه اسلوب هم خبر او هم مستفید شي.

**د هغه شاعرانه اسلوب.**

عزیز الله ماما اېډوکېټ خپل ځان ته یو بېل شاعرانه اسلوب درلود. د هغه شاعرانه اسلوب دومره زیات ساده و چې د هغه افاقي شاعرانو څخه یې هم خپل اسلوب بېل کړی. کوم چا چې به خپل شعر په ډېره ساده او افاقي ژبه کښې وایی. خو د عزیز الله ماما د شاعري یوه لویه برخه حقیقي او قامي ده. د شعر ژبه یې ساده ده او ځان لره خپل طرز لري مګر فکر یې د رحمان بابا او د غني خان له فکر سره ورته دی. کوم ځای چې د رسول اللهﷺپه اړه غزل یا نظم لیکي نو دلته داسې ښکاري چې د ماما شعري اسلوب د رحمان بابا سره ورتوالی لري خو د شعر لیکلو ژبه، طرز او خیال یې خپل وي؛ ډېر زیات سوچه وي. کوم ځای چې هغه د قام ، وطن او د خدای تعالی سره خپله مینه په څه ډول څرګندوي نو هغه وخت د غني خان د فکر سره ورته وي. غني خان د جانان تشبیه د خدای تعالی دپاره کاروي او ماما هم په خپلو شعرونو کښې د جانان تشبیه د خدای تعالی او یا یې د رسول اللهﷺ دپاره کاروي.

عزیز الله ماما اېډوکېټ یو داسې حقیقي شاعر و چې خپل فکر د شعر په بڼه کښې داسې راوړي، وایي:

"پر مېزان دی زموږ نبي پر سر يې تاج
جاودان دی زموږ نبي پر سر يې تاج
زهٔ عامي او ګناه ګار به په زاري سم
تر عمل مي سترګي نسته کړم يې لاج

لويي غښي د ده په روی جهان قايم کړ
نه به وه نه به يې کولای خلګو کاج
نه به کفر و اسلام واړه پيدا وای
نه بې اخيست له زميانو باج
بس هغه د شاعري باد به لا ښوري
غمزده عزيز وايي دا يې سو رواج"(١٨)

په دا غزل کښې د ارواښاد عزيز الله ماما عاجزي د کتلو وړ ده چې هغه څومره ځان خاکسار او عاجزه بولي او دا خبره په ډېره عاجزي سره کوي چې "زه عامي او ګناه ګار به په زاري سم" او بلې خواته د رسول الله ﷺ پر سر تاج د مېزان پر ورځ د ليدلوطلب ګار دی.

بل ځای ماما داسي وايي چې هغه د رحمان بابا څخه ډېر متاثره و خو سبک او اسلوب يې خپل و او د خپل جانان او صحابه کرام ذکر د شعر په ژبه کښې داسي کوي، وايي:

"د رحمان په يوه شعر مي ديوان واخيست
د کريم په اجازه مي مکان واخيست
لاس راکړی دی مړو ما ټينګ نيولی
په ګډا د ادا نومي اسان واخيست
که دوی نه وايه زما فهم به ورته نۀ وو
په دغه مي تجل د جانان واخيست
د مجنون وو له فرهاد له جوره ما هم
ور روان سومه پر سر مي د امان واخيست
وار خطا يې کړم له ځانه سوم بې ځانه
چي مي زړه د جانان تېر وکمان واخيست
زما د سترګو نودې کله وي لوېدلي
د احيا مي د حضرت عثمان(رض) واخيست
زۀ په صدق او په رښتيا پر دنيا پيايم
د حضرت صديق پر لاره مي توان واخيست
په هوالا د انصاف غلبلې اورم
د حضرت عمر مي دا جاودان واخيست
د کافر پر رګو باندي يمه تيغه
دا ښونه مي ده شير سبحان واخيست

اختتام ته عزيز الله غمزده راغلم
د الله په نام مي لاس ځيني د ځان واخيست"(۱۹)

په دا غزل کښې ماما د الله تعالی، رسول اللهﷺ او صحابه کرام سره د خپلي ميني ځرګندونه په ډاګه کوي. و خپلو مړو ته يې هم د عقيدت پيرزوينه وړاندي کړې ده. او د رحمان بابا سره يې خپله مينه داسي وړاندي کړې چې هغه ډېر زيات ځيني متاثره و.

يو بل ځای عزيز ماما د انسان د ابدي کور چې قبر ګڼل کيږي په دا اړه ډېر زيات ژور نظر لري او انسانانو ته د ګور په اړه د فکر کولو نصيحت هم په ډېره خوږه او ساده ژبه سره کوي چې د دا ابدي کور فکر کول ډېر زيات ضروري دی، په دا اړه داسي وايي:

"د دنيا غندنه

يې به فهمه درله رابسي سبا موت
عزيز نۀ درپوسي وايي په ژړا سوت
په ډورۍ کښې به يوازي غمجن پروت يې
نه به ږغ وي نه به واورې هيڅا سوت
قبرستان لره به ځې په دوه لاسونه
طاق خو دی او طاق به ځې نه به وي بيا جوت
د منکرنکير جواب دی ستا پر غاړه
بد به هله وي چې ودي خوږ اشنا ګوت
غمزده عزيز شراب ازحد خواږه دي
توبه ګار ښه و الله ته سوې پر ملا لوت"(۲۰)

**د هغه قامي او وطني شاعري**:

عزيزالله ماما اېډوکېټ پر پښتو، پښتونواله او پر خپل وطن مېئين شاعر دی، د هغه د شاعري حقيقي ځرک په ملتيا هغه د قامي شاعري تر څنګ هغه په وطن هم داسي ميئين ښوک دی چې د وطن د دنګو غرونو دنګوالی او ښايست په ډېره زياته مينه سره محسوسه وي. وغوڅکۍ (زيارت) ته او د هغه ښايستې غريزي سيمې په اړه خپله مينه د غزل په بڼه کښې داسي ځرګنده وي، وايي:

"اې د پښتونخوا د فخر شين زرغون سمسور وطنه
اې د پخوانو غازيانو ښکلي پرغرو بور وطنه
ستا په لويو غرو کي زموږ غازيانو وه غزا کړې
ستا په شنو درو کي و دښمن ته وه صلاح کړې
ستا په شنه لمن کي فيض محمد سردار غزا وکړه

ستا د ننګ دپاره يې د انګرېز د سرفنا وکړه
يو غر د سارو دئ بل د پيلي ستا پر شکم پراته
ځوني لوئ غازي يې دی خوړلئ دا پر غم پراته
ته پر خپله پراخه سينه وام رنګه ځنګل لرې
جوړ په دروازه کي امندون رنګه درشل لرې
ستا په شنه لمن کي شنې اوبښتي ميشته سوي دي
شوق يې پر ما راوړ ستا پر حسن فريضه شوي دي
مځکه راځه ورکه سي د درختو له ډېرښته څه
ستا په حسن خيال کوم جدا اسوم له هښته څه
څنګه دي نيولی دی په غېږ کي ګلالی بازار
پورته څه عجبه خوند کوي د خرواري مزار
ستر حاجي دی داسي لوی پښتون را زېږولئ دی
نوم د سر داری يې تر دې وخت را رسېدلی دی
ستر حاجي په مخ کي پر ځنګل تاته سپايان پرېښوو
ستا د ننګ له پاره يې بريالي زامن د ځان پرېښوو
ستا پر ځيګر باندي د کواسي شنه باغونه دي
ستا پر غاړه باندي د تنګي ابشارونه دي
مست يم ستا په مينه پر ما قدر ستا د ميني دی
زړۀ مي کاښي نۀ دی ډک د ميني د سرې ويني دی
ځمه روانېږم ستا ولوړشان ته سلام کوم
زه دا ستا د حسن په نغمو د زړه ارام کوم"(۲۱)

په داغزل کښې عزيز الله ماما د زيارت د سيمي هغه ټول ښايست، وياړ او وياړلي وګړو په ملتيا د هغه غازيانو او پياوړو وګړو په اړه هم خبره وکړه. په تېره يې بيا د زيارت او و هغه ته نږدې سيمي او د هغو سيمو د ښايست يې ډېر په زړۀ پوري انځور ګري وکړه.

عزيز الله ماما چې څنګه د وطن په دنګو غرونو او د وطن په ګوټ ګوټ ميئن سړی و په همدغه ډول سره هغه د وطن د ځوانانو فکري بيداري او شعوري روزنه هم کوله. هغه د پښتون ستوډنټس فېډرېشن و ځوانانو ته يوه داسي ترانه ليکلې وه چې مدام به د يوه ليکچر، ادبي او علمي ناسته کېدله نو به دا ځوانانو په يوه خوله سره دا ترانه زمزمه کوله او بيا به يې ناسته مخ پر وړاندي بېوله، ترانه داسي ده لکه چې وايي:

"**تنظیمي ترانه**

ملګرو فکر وکړئ چي ملي ژوند مو خراب دی
ژوندون د انقلاب دئ ژوندون د انقلاب دی
موږ پخپل وطن کي د خپل کوره څه بې کوره یو
وحدت د فکر نۀ لرو کمزوره یو بې زوره یو
په ژوند پوري حېران یو د هر څه څخه خواتوره یو
نفوذ د استعمار دئ چي ژوندون مو په عذاب دی
ژوندون د انقلاب دئ ژوندون د انقلاب دی
د ژوند فرشته ګوره د سامراج سره ټکر وهي
ځپلي اولسونه او قامونه یې پر سر وهي
غورځنګ د ازادۍ دئ غلامي ته چي غومبر وهي
افسوس پښتون اولس دی چي د ژوند ګاډئې خراب دئ
ژوندون د انقلاب دئ ژوندون د انقلاب دی
موږ عام اولس قوت غټان یې وله خائنان ګڼو
موږ تش ناري وهونکي دوکه بز سوداګران ګڼو
موږ تل د اولسو د ارمانو مرکز ځوانان ګڼو
جرس دوخت ناري وهي چي پاڅه انقلاب دی
ژوندون د انقلاب دئ ژوندون د انقلاب دی
ویښ شوي یو پوهـ شوي یو میدان ته راوتلي یو
زور ګیر وستمګرو ته عجب په ساوتلي یو
د خپل اولس بچي یو پر دښمن ورپاوتلي یو
د ژوند د نوي فکر په رڼا ماضي جواب دی
ژوندون د انقلاب دئ ژوندون د انقلاب دی
ځوانانو ته په کار دئ چي راپورته شي تکل وکړي!
زوړ ژوند او فکر پرېږدي پر دا نوي لار مزل وکړي
د خوار اولس دپاره پر دښمن باندي یر غل وکړي
نعره د انقلاب ده د ځوانو سور سېلاب دی
ژوندون د انقلاب دئ ژوندون د انقلاب دی"(۲۲)

## حوالې


۱) خان، غني، لټون(د غني کليات، نوی کلام)، ترتيب و تدوين محمد زبير حسرت، يونيورسټي بک ايجنسي، خيبربازار پېښور، چاپ اول ستمبر ۲۰۰۵،مخ ۲۱۲

۲) ماما، عزيز الله، ناچاپه ديوان، مخ لومړی

۳) ماما، عزيز الله، ناچاپه ديوان، غزل ۱۹

۴) ناچاپه مسوده

۵) ناچاپه مسوده

۶) ماما، عزيز الله، ناچاپه ديوان، نظم برخه، "د ظريف شهيد د کليزي په مناسبت"

۷) ماما، عزيز الله، ناچاپه ديوان، نعتيه کلام ۱

۸) ماما، عزيز الله، ناچاپه ديوان، نعتيه کلام ۱

۹) ماما، عزيز الله، ناچاپه ديوان، غزل ۲

۱۰) ماما، عزيز الله، ناچاپه ديوان، غزل ۳

۱۱) ماما، عزيز الله، ناچاپه ديوان، ټپه نمبر۲۶

۱۲) ماما، عزيز الله، ناچاپه ديوان، ټپه نمبر۲۷

۱۳) ماما، عزيز الله، ناچاپه ديوان، کاکړۍ نمبر ۲۳

۱۴) ماما، عزيز الله، ناچاپه ديوان، کاکړۍ نمبر ۱۷

۱۵) ماما، عزيز الله، ناچاپه ديوان، برخه رباعي، نمبر ۵

۱۶) ماما، عزيز الله، ناچاپه ديوان، برخه رباعي، نمبر ۲۳

۱۷) ماما، عزيز الله، ناچاپه ديوان، نظم برخه، "د صادق شهيد ويرنه"

۱۸) ماما، عزيز الله، ناچاپه ديوان، غزل ۲۶

۱۹) ماما، عزيز الله، ناچاپه ديوان، غزل ۳۶

۲۰) ماما، عزيز الله، ناچاپه ديوان، غزل ۴۲

۲۱) غمزده، عزيزالله، د پښتو ادب پر مخ ببونکی پاړکی،د پښين د پښتو د ودي ټولنه، اسلاميه پريس کوئټه، اګست ۱۹۷۰، مخ ۵۸-۵۹

۲۲) ماما، عزيزالله، پښتون سټوډنټس فېډريشن، اداره مرکزي نشرواشاعت، ژوب، ستمبر ۱۹۸۵، مخ۷۵، ۷۶، ۷۷